# د COVID-19 په یوه نړۍ کې

## د جنسیت د مساواتو، سولې او امنیت نن ورځ او راتلونکی

افغانستان

A.W.R.C

gaps uk
gender action for peace and security

WOMEN for WOMEN International

# 1. مقدمه

د ويمن فار ويمن انټرنيشنل (WFWI) او د افغان ويمنز ريسورس سنټر (AWRC)، د جنډر ايکشن فار پيس اينډ سيکيورټي (GAPS) په مرسته په افغانستان کې یوه څېړنه ترسره کړه. دا څېړنه نړيوالې ټولنې (حکومتونه، INGOs او څو اړخيزه بنسټونه) ته لار هواروي تر څو د ۱۹-COVID د مشخصې مخينې او نړيوال جنسيت، سولې او امنيت د اغېزو په اړه ښه پوهه ترلاسه کړي او دې ستونزو ته ځوابګويې پاليسۍ او پروګرامينګ رامينځ ته کړي چې د ۱۹-COVID د اغېزو او راتلونکو وباوو په وړاندې به ځواب ګوی اوسي.

د څېړنې ميتوډ په کليدي طرحو کې بې ځايه کېدل، د تصميم په نيولو کې د ښځو او نجونو ګډون، د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی (GBV)، جنسي او د نسل د تکثير اړوند روغتيا او حقونه (SRHR)، روغتيايي پاملرنو ته لاسرسی، معيشت او د ښځو اقتصادي حقونه رانغاړي، د افغانستان په بېلابېلو سيمو او سکټورونو کې د ۱۹-COVID، جنسيت، سولې او امنيت د اغېزو اړوند ادبياتو او ډېټا بياکتنه شامل و.

له هغو بنسټونو سره چې په ځانګړې توګه د ښځو، سولې او امنيت (WPS) پر موضوعاتو باندې کار کوي، د کليدي خبر ورکوونکو (KIIs) شل مرکې ترسره شوې. KIIs د ګډون کوونکو يوه تقاطع رانغاړله: د ښځو د حقونو بنسټونه (WROs)/شبکې، د نجونو بنسټونه/ډلې، د معلوليت اړوند حقونو بنسټونه، ډلې، د کډوالو او بې ځايه شوو اشخاصو د حقونو بنسټونه/ډلې او هغه ډلې چې له ديني او قومي اقليتونو څخه استازيتوب کوي. دا مرکې د کابل، پروان، کاپيسا، ننګرهار، کنړ، لغمان، هرات، بلخ، کندهار، پکتيا، هلمند، باميان او کندز ولايتونو په شمول، د افغانستان په ۱۳ ولايتونو کې ترسره شوي دي.

موندنې د ۱۹-COVID جنسيتي اغېزو ته اشاره کوي، په ځانګړې توګه په ښارې، کليوالي سيمو او د کډوالۍ د ځای پر ځای کېدو چوکاټ کې پر منزوي شوو کسانو باندې. موندنې د ښځو او نجونو پر ونډو او مسوليتونو، د هغوی پر اړتياوو او معيشت او GBV باندې د دې وبا پر اغېز باندې رڼا اچوي او همدارازدا ښيي چې د دې ښځو او نجونو بېلابېلې ډلې څه ډول دا بحران تجربه کوي. دا موندنې همدارازښيي چې څه ډول ۱۹-COVID په افغانستان کې په سوله او امنيت باندې لوی اغېز پرېباسلی دی چې د اوږد مهالي او ژورې بې ثباتۍ لامل شوی دی.

# 2. سپارښتني

2.1 1 **سپارښتنه: جامع جنسيتي کړنلاره** – د COVID-۱۹ جنسيتي اغېزې په ګوته شي او د جنسيت د حساسيت پر بنسټ د اقدام اخيستلو ژمنه وکړل شي.

2.2 2 **سپارښتنه: د ښځو معيشتي او اقتصادي حقونه** – COVID-۱۹ د يوه اقتصادي او همداراز روغتيايي او بشري بحران په توګه وپېژندل شي. دا کار په هغو اقتصادي موډلونو او ميکانيزمونو کې د پانګونې له لارې ترسره کړئ چې د تر ټولو غريبو او منزوي شوو اشخاصو له معيشت څخه ملاتړ وکړي – او په ځانګړې توګه له ښځو سره پر مرستو باندې تمرکز وشي تر څو وکولی شي له وبا څخه د مخه د عايد سرچينې، د کارموندنې، ازاد کار او کلي پس انداز و قرضو د ټولنو (VSLSAs) په شمول رامينځ ته کړي.

2.3 3 **سپارښتنه: ګډون او تصميم نيول** – د ښځو، نوو ځوانو نجونو لپاره او په WROs کې د استازيتوب او د تصميم نيولو په ځواک کې د رسمي COVID-۱۹ د ځواب ګويۍ او بيامونډنې د ميکانيزمونو په چوکاټ کې، په نړيواله، ملي او سيمه ايزه سطح باندې زياتې رامينځ ته شي. دا بايد د ښځو د رهبرۍ د ځواکمنتيا او د ښځو او نجونو د اړتياوو او لومړيتوبونو د محافظت په وړاندې د اوږدمهاله ژمنې په وسيله ترسره شي.

2.4 4 **سپارښتنه: روغتيايي پاملرنه او GBV** – په نورو سيمو کې د وبا په وړاندې د ځواب ګويۍ په موخه د محدودو روغتيايي سرچينو د شتون سربېره بايد فوري هڅې ترسره شي تر څو پاملرنو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي او ترلاسه کولو په برخه کې د ځنډ سطح راټيټه شي. دا هڅې د امن، اغېزمن او کافي جنسي، د نسل د تکثير او اميندوارۍ اړوند روغتيايي پاملرنې او همداراز د GBV خدمتونه د COVID-۱۹ په ترڅ کې او وروسته له هغې د ابتدايي هڅو په توګه رانغاړي. دا هڅې همداراز منزوي شوو ښځو او نجونو ته په ځانګړې تمرکز سره، د COVID-۱۹ په وړاندې د عامه روغتيا د ځواب ګويۍ د يوې برخې په توګه، د ټراما يا صدمې اړوند خدمتونو د رواني او سايکوسوشيل ملاتړ هم رانغاړي.

2.5 5 **سپارښتنه: د ښځو د حقونو د بنسټونو (WROs)، شبکو او غورځنګونو لپاره تمويل** – د WROs، شبکو او غورځنګونو لپاره تمويل کول بايد د دې حقيقت په رڼا کې لومړيتوب وګڼل شي چې دا بنسټونه د COVID-۱۹ په شمول، له هغو ځانګړو اړتياوو، حقايقو او ستونزو څخه باخبره دي چې د دوی په زمينه کې ورسره مخامخ دي. دا بايد د يوې جامع ژمنې په چوکاټ کې ترسره شي تر څو د جنسيتي مساواتو، سولې او امنيت لپاره د تمويل په کچه کې زياتی رامينځ ته شي او د WROs، شبکو او خوځښتونو لپاره بنسټيز، د انعطاف وړ او اوږد مهاله تمويل ترلاسه شي.

2.6 6 **سپارښتنه: مناقشه او بې ځايه کېدل** – په افغانستان کې د COVID-۱۹ په وړاندې ځواب ګويي او د نورمال وضعيت بيامونډنه بايد صريحاً د هغو ښځو او نجونو ځانګړې تجربې او اړتياوې په ګوته کړي چې د مناقشو په وسيله اغېزمنې شوې، منزوي شوي او يا هم بې ځايه شوي دي. دا بايد په افغانستان کې د ټول تاوتريخوالي او مسلح مناقشو د بندولو او ټوليزې سولې لپاره د روانو هڅو د يوې برخې په توګه ترسره شي.

2.7 7 **سپارښتنه: مسؤليت** – د اضطراري وضعيت په وړاندې د حکومت او نړيوالې ټولنې په ملاتړ د ځواب ګويۍ پروګرامونه بايد په اغېزمن توګه نظارت ترسره کړي تر څو له مسؤليت او روڼوالي څخه باوري شي.

# 3. سپارښتنې او مدارک

**3.1 1 سپارښتنه: جامع جنسيتي کړنلاره -** د COVID-19 جنسيتي اغېزې په ګوته کړي او د جنسيت د حساسيت پر بنسټ ژمن شي.

COVID-19 موجوده نامساواتو ته تشدد ورکړی دی – په داسې حال کې چې تر ټولو منزوي شوي او حاشيه شوي ښځې او نجونې چې د مناقشو په وسيله متاثرې شوي، په غير متناسبه کچه تر اغېز لاندې راغلي دي. د افغانستان حکومت او د پراخې کچې نړيواله ټولنه بايد – لکه څنګه چې په څېرنه کې هم پرې رڼا اچول شوې – د COVID-19 ژورې جنسيتي اغېزې وپېژني او ژمنه وکړي چې د جنسيت د حساسيت پر بنسټ د COVID-19 په وړاندې او د COVID-19 د مخنيوي، ځواب ګويي او بياموندنې په موخه ريښتينې کړنلارې ترلاس لاندې ونيسي.

دا کړنلارې لاندې ټکي رانغاړي:

- په اوږد مهال کې د جنسيت پر بنسټ اقدام پورته کول چې د هغې ګډون کوونکي اړتياوو د ارزونې پر بنسټ مقاومت رامينځ ته کړي چې د تفکيک شوي ډېټا راټولولو او شننې په وسيله ترسره کېږي او د اغېزمن شوو ډلو اړتياوې پوره کوي.
- د منزوي شوو او حاشيه شوو ښځو او نجونو ځانګړو اړتياوو ته په پام سره، کله چې تصميم نيول کېږي چې څه ډول بايد د COVID-19 په اړه حياتي مالومات شريک شي.
- د هر هغه تمويل لپاره له مسؤليت منلو څخه باوري کېدل چې ترلاسه شوي او توزيع شوي تر څو هم د جنسيتي نامساواتو، سولې او امنيت ستونزې په ګوته شي او هم د COVID-19 وبا اړوند ستونزې هوارې شي.

**مدارک**

ګډون کوونکو وويل چې د وبا خپرېدو په بېلابېلو ډولونو سره د خلکو بېلابېلې ډلې اغېزمنې کړې دي خو تر ټولو ډېرې حاشيه شوې ښځې او نجونې په غيرمتناسبه توګه اغېزمنې شوي دي. دا هغه ښځې هم رانغاړي چې عايد يې ټيټ دی، هغه نجونې او ښځې چې معلوليت لري او هغه ښځې او نجونې چې په کليوالو سيمو کې اوسېږي او همداراز هغه ښځې او نجونې چې بې ځايه کېدل يې تجربه کړيدي.

"په عمومي توګه ښځې او نجونې د نارينه و په پرتله، تر ټولو نه ډېر د جګړې، مناقشې، ټولنيزو ستونزو او روغتيا له بحران سره مخامخ دي...COVID-19 په ثبوت رسولې چې دا بحران هم توپير نه لري او د افغان ښځو په مينځ کې نابرابرۍ ته تشدد ورکوي."

د دې لپاره چې باور ترلاسه شي چې ملي ځواب ګويي دې موضوع ته پام ساتي، تصميم نيوونکي بايد په منظمه توګه جنسيتي شننې ترسره کړي او تفکيک شوې ډېټا د بحران د ارزونې له لارې راټوله کړي تر څو يې په بېلابېلو ابعادو او د متقاطع هويتونو پر بنسټ يې(په شمول د: جنسيت، نژاد، قوميت، معلوليت، ټولنيزه سطحه، عمر، موقعيت او ټولنيز-اقتصادي وضعيت)، پر بېلابېلو خلکو او ډلو باندې پر اغېزو پوه شي تر څو د حاشيه شوو ډلو له استازيتوب څخه باور ترلاسه شي او له ټولو څخه مهمه دا ده چې دا موندنې د کړنلارو لپاره د لارښود په توګه وکارول شي تر څو باور ترلاسه شي چې دا کړنلارې مناسبې دي.

ګډونوالو څرګنده کړه چې د COVID-19 اړوند مالومات او د مخنیوي اړوند کړنلارې د راډیو، ټلویزیون، ټولنیزو رسنیو او موبایل د ټلیفونونو له لارې په پراخه کچه شریک شوي دي خو په افغانستان کې تر ټولو حاشیه شوي او کلیوالي سیمې د بیې، موقعیت او سواد د نه شتون له امله، د اړیکو دې چینلونو ته په لاسرسي کې له ستونزو سره مخ کېدای شي. ښځې او نجونې معمولاً د نرسالاره نورمونو له امله د مالوماتو په لاسرسي کې له ځانګړو ممانعتونو سره مخ دی. دا په دې توګه په دې مانا هم دي چې هغوی له COVID-19 سره د اړیکي او په هغه باندې د اخته کېدو له ډېر ګواښ سره مخ دي. یوه مرکه کېدونکي وویل چې کېدای شي 20 سلنه ښځې ټکنالوژۍ ته لاسرسی ولري په داسې حال کې چې بل مرکه کېدونکي وویل:

"په افغانستان کې د نورو هېوادونو په پرتله، ټکنالوژۍ ته لاسرسی محدود دی. ښځې او نجونې چې په لویو ښارونو کې اوسېږي او سواد لري، او همدارز ښه اقتصادي وضعیت لري، انټرنټ او ټولنیزو رسنیو، غږیزو رسنیو، تصویري رسنیو او چاپي رسنیو ته لاسرسی لري. غریبي کورنۍ، ښځې او نجونې چې په لرې پرتو سیمو او کلو کې اوسېږي، بریښنا ته لاسرسی نه لري نه هم ټکنالوژۍ ته لاسرسی لري. د ټکنالوژۍ د کارولو لپاره سواد د ښځو او نجونو په وړاندې یو لوی ممانعت دی. او دا چې نوي مالومات ترلاسه کړي یا خپله پوهه پخه کړي. دا عمل د هغوی په ښه راتلونکي باندې مثبته اغیزه پرېباسي."

**2 .3.2 سپارښتنه: د ښځو معیشت او اقتصادي حقونه - COVID-19** د یوه اقتصادي، روغتیایي او بشري بحران په توګه وپېژنئ. دا کار په هغو اقتصادي موډلونو او میکانیزمونو کې د پانګونې له لارې ترسره کړئ چې د تر ټولو غریبو او منزوي شوو اشخاصو له معیشت څخه ملاتړ وکړي – او په ځانګړې توګه له ښځو سره پر مرستو باندې تمرکز وشي تر څو وکولی شي له وبا څخه د مخه د عاید سرچینې، د کارموندنې، ازاد کار او کلي پس انداز و قرضو د ټولنو (VSLSAs) په شمول رامینځ ته کړي.

نړیواله ټولنه باید په پراخو اقتصادي موډلونو او میکانیزمونو کې پانګونه وکړي چې پر خلکو باندې متمرکز وي او د جنسیت په وړاندې ځواب ګوی اوسي تر څو د خلکو له معیشت څخه ملاتړ وشي چې د وبا او اړونده مخنیوي د کړنلارو په وسیله له مینځه تللی دی. دا مهمه ده چې باور ترلاسه شي چې د اقتصادي بیامونډنې بستې د هغو خلکو لپاره په مناسبه توګه طرح شي چې معیشت یې تر ټولو نه ډېر اغېزمن شوی وي. په پایله کې، دا موډلونه او میکانیزمونه باید د جنسیت پر بنسټ وي تر څو باور ترلاسه شي چې په اغېزمنه توګه د ښځو او نجونو له حقونو، اړتیاوو او تجربو سره سم دي.

دا عمل د موجوده اقتصادي ملاتړ ساتل (د تمویل، د پیسو د لېږد او بودجې له لارې) رانغاړي او همدارز د شونتیا په صورت کې، د تکمیلي بحراني تمویل وړاندې کول هم رانغاړي تر څو په معیشت باندې فوري اغېزې راکمې کړي. اوږدمهاله اقتصادي مداخلات باید په نظر کې ونیول شي او هغو ښځو او نجونو ته ځانګړې پاملرنه وشي چې ازاد کار کوي او یا په غیررسمي سکټور کې کار کوي، د بېلګه په توګه د پیل کولو د پانګې له لارې تر څو له قرنطینې څخه وروسته خپلې سوداګرۍ پیل کړي او یا VSLAs بیا پرانیزي.

**مدارک**

COVID-19 په افغانستان کې د ګڼ شمېر کورنیو پر هوساینه باندې شدیدې مالي اغېزې پرېباسلي دي، ځکه د قرنطین اړوندې کړنلارې او د سرحدونو بندېدل د دې لامل شول تر څو عاید له لاسه لاړ شي او د ابتدایي اړتیاوو وسایلو بیې پورته لاړې شي (په تېره بیا خواړه). د دا اسیب منل د دې حقیقت له امله هم رامینځ ته شوي چې له پنځو افغانانو څخه یې څلور تنه په غیر رسمي کارونو بوخت دي – د بېلګې په توګه د ټکسي د چلوونکو، هټۍ والو یا کورنیو کارکوونکو په توګه. دوی تر ټولو ډېر اغېزمن شوي دي او د اوس مهال لپاره نشي کولی تر څو ثابت معیشت ترلاسه کړي. دا په داسې حال کې دي چې د ګڼ شمېر خلکو اقتصادي وضعیت هم ښه ندی او دا د دې لامل شوي تر څو کورنۍ د اقتصادي صدمو په وړاندې د مقاومت له نه شتون سره مخامخ شي. د COVID-19 په پایله کې د غربت او د خوړو د کموالي د کچې د چټک پورته کېدو توقع کېږي چې په ځانګړې توګه به ښځې او نجونې اغېزمنې کړي.

لکه څنګه چې ښوونځي او کارځایونه د قرنطین په ترڅ کې بند دي، په افغانستان کې ګڼ شمېر ښځې دې ته اړ شوې تر څو محدود عایداتي فرصتونه چې د پرته له فیس څخه روغتیایي پاملرنو ته د لاسرسي لپاره موجودې وي، له لاسه ورکړي. له دې څخه زیاتره دا حقیقت دی چې د COVID-19 د خپراوي په ترڅ کې د پیسو د ګټلو په برخه کې د ښځو راتیټ شوی توان د هغوی اقتصادي او ټولنیزه اتکا په شدت سره محدودوي، په تېره بیا په نرسالاره ټولنه کې چې له مخه د ښځو او نجونو د خوځښت د ازادۍ په وړاندې لوی ممانعت دی.

دا جنسیتي اغېزې د COVID-19 د ځواب ویلو د بستې د برخې په توګه نه ګڼل کېږي، خو د ښځو پراقتصادي او ټولنیزه توانمندۍ او په افغانستان کې به پر جنسیتي مساواتو باندې اوږدمهالي اغېزې پرېباسي، په تېره بیا پر تر ټولو څخه زیاتو حاشیه شوو ښځو. دا سپارښتنه په ښکاره توګه له مرکو څخه په ګوته شوې ده:

**”د دې لپاره چې باور ترلاسه شي چې د افغان ښځو اوږدمهالي او لنډ مهالي اړتیاوې د COVID-19 په ترڅ او وروسته له دې بحران څخه په نظر کې نیول شوې دي، او دا چې ښځې لا حاشیه شوې نه وي، نړیوال تمویل کوونکي، ملګري ملتونه او حکومت باید عمل وکړي او د COVID-19 د خپراوي لپاره په کافي کچه بودجه په پام کې وساتي تر څو نه یوازې روغتیایي ستونزې هوارې کړي بلکه له اقتصادي عواقبو څخه هم مخنیوی وکړي.“**

---

**3.3 سپارښتنه: ګډون او تصمیم نیول -** د COVID-19 په وړاندې د مبارزې په رسمي چوکاټ کې او په نړیواله، ملي او سیمه ایزه کچه نورمال وضعیت ته د بېرته ستنېدو د میکانیزم په چوکاټ کې د ښځو، نوو ځوانانو نجونو او WROs د استازیتوب او تصمیم نیولو په ځواک کې زیاتی. دا باید له اوږدمهاله ژمنتیا سره سره ترسره شي تر څو د ښځو او نجونو رهبري پیاوړې شي او د ښځو او نجونو حقونه، اړتیاوې او لومړیتوبونه محافظت شي. دا ژمنتیاوې لاندې ټکي رانغاړي:

- د COVID-19 په وړاندې د مبارزې په میکانیزمونو او زېربنا کې د ښځو، نوو ځوانانو نجونو او WROs د بېلابېلو ډلو په استازیتوب کې زیاتی.
- په پراخ ملکي او سیاسي ژوند کې د معنې لرونکي ګډون لپاره د فرصتونو پیاوړي کول، د بېلګې په توګه د سولې مذاکرات او ډیالوګ.
- په عامه سطح، د COVID-19 په وړاندې د مبارزې په برخه کې پانګونه چې دا کار له مخه د ښځو د حقونو او د ښځو په رهبرۍ د دفترونو له لوري پیل شوی دی.

په افغانستان کې، په کور، سیمه او ملي کچه باندې، د تصمیم نیولو په برخه کې د ښځو او نجونو حذف کول نوی کار ندی. COVID-19 دا کار تشدید کړی دی او ښځې، نجونې او WROs د وبا په وړاندې د مبارزې او له هغه څخه د خلاصون په برخه کې له رسمي تصمیم نیولو څخه حذف شوې دي، په داسې حال کې چې هغوی د مبارزې په لومړۍ کرښه کې کار هم کوي.

دا ستونزه باید د فوري لومړیتوب په توګه هواره شي. د تصمیم نیولو په جوړښتونو کې – هم د COVID-19 په برخه کې او همداراز په پراخه کچه له وبا څخه د خلاصون او د سرچینو د تعینولو په برخه کې د ښځو او نوو ځوانانو نجونو راګډول به لا ډېرو اغېزمنو او ځواب ویونکو هل لارو ته لار پرانیزي چې په اصل کې به له تر ټولو ډېرو حاشیه شوو ښځو او نجونو اړتیاوې پوره کړي. دا به همداراز له COVID-19 څخه وروسته سولییزې، باثباته او مساوي ټولنې ته لار پرانیزي.

**مدارک**

د ښځو او نوو ځوانانو نجونو د ګډون او رهبرۍ ترویج کول د ښځو او نجونو د حقونو، اړتیاوو او تجربو لپاره زیاتېدونکو فرصتونو ته لار پرانیزي. د COVID-19 په زمینه کې، ښځې د اضطراري مبارزې په لومړیو کړښو کې کار کوي، په شمول د لومړیو کړښو خدمتونو او په کور کې د پرته له عاید څخه پاملرنو سره، خو په رسمي تصمیم نیولو کې یې استازې نشته. له دې څېړنې څخه مدارک جوتوي چې "د ښځو لپاره هېڅ ډول پاملرنې نشته، دوی د ناروغۍ په وړاندې په لومړۍ کرښه کې مبارزه کوله، په عین حال کې یې په کور کې هم خدمت کولو، خو د هغوی خدمتونه هېڅ کله هم حساب نه شول." د هغوی اغېزمن او معنې لرونکی ګډون به د دې لامل شي تر څو د وبا په وړاندې لا ډېر اغېزمن او ځواب ویونکي حل لارې رامینځ ته شي. لکه څنګه چې یوه ګډون کوونکي وویل: "د ښځو تخصص د دوی په سیمو کې د مبارزې د لارو د طرح کولو په برخه کې حیاتي ونډه لوبوي."

که څه هم، د څېړنې ګډونوالو په ګوته کړه چې په افغانستان کې ښځې او نجونې څه ډول په دوام لرونکې توګه د رسمي تصمیم نیولو له جوړښتونو څخه په نړیواله، ملي او سیمه ایزو کچو حذف شوي دي. ښځې او نجونې د ټولنیزو نورمونو له امله، د هغوی د خوځښت او په عامه ژوند کې یې د ګډون د وړتیا په برخه کې له محدودیتونو سره مخ دي چې د دې لامل کېږي تر څو د تصمیم نیولو پروسې ته لاسرسی ونلري او له ګډون څخه یې مخنیوی وشي. د بېلګې په توګه، د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې د ښځو او نجونو د لومړیتوبونو او اړتیاوو لپاره استازیتوب په پام کې ندی نیول شوی. عین خبره د COVID-19 په برخه کې ده. د کورنۍ غړي هم د COVID-19 بحران یوه بهانه ګڼي تر څو ښځې او نجونې له خپلو کورونو څخه بهر لاړې نه شي – دا کېدای شي د دې لامل شي چې ښځې او نجونې خپلې نوې ترلاسه شوې عامه ونډې له لاسه ورکړي او په اوږد مهال کې امن فضاوو، ازادۍ او حقونو ته یې لاسرسی محدود شي. یوه مرکه کېدونکې وویل چې: 'له بده مرغه د افغان ښځو غږ تصمیم نیوونکو سم ندی اورېدلی" او په حکومت او نړیواله ټولنه یې غږ وکړ تر څو: "باور ترلاسه کړي چې ښځې د COVID-19 د همغږي کولو او د مبارزې د وظیفوي ځواک او کمیټو په برخه کې راګډې شي'.

**4 .3.4 سپارښتنه: روغتیايي پاملرنه او GBV** – فوري ګامونه باید اوچت شي تر څو پاملرنو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي په برخه کې د ځنډ کچه راټیټه شي، له دې سره سره چې د روغتیايي پاملرنو محدودې سرچینې له وبا سره د مبارزې په موخه نورو سیمو ته لېږل کېږي. دا ګامونه لاندې ټکي رانغاړي:

- د COVID-19 په ترڅ کې او له دې بحران څخه وروسته، د بنسټیز ګام په توګه امن، اغېزمنو او په کافي کچه د جنسي، د نسل د تکثیر او امیندوارۍ اړوند روغتیايي پاملرنو او همداراز GBV خدمتونو ته دوام ورکول.
- باور ترلاسه کول چې د صدمو اړوند خدمتونو په شمول، د رواني روغتیا او سایکوسوشیل ملاتړ د COVID-19 د مبارزې د عامه روغتیا په چوکاټ کې راوستل شي او ځانګړی تمرکز یې پر حاشیه شوو نجونو او ښځو باندې وي.
- فوري ګامونه باید اوچت شي تر څو روغتیايي پاملرنو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي په برخه کې د ځنډ کچه راټیټه شي - دا باید په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې له لوري ملاتړ شي.
- د COVID-19 د پېښو په وړاندې د مبارزې په موخه روغتیايي پاملرنو ته له منصفانه او مساویانه لاسرسي څخه باید باور ترلاسه شي.
- امن، اغېزمن او په کافي کچه د جنسي، د نسل د تکثیر او امیندوارۍ اړوند روغتیايي پاملرنو ته باید دوام ورکړل شي، په شمول د حکومت د بېلابېلو میکانیزمونو په راګډولو سره، لکه د روغتیا، عدالت او امنیت سکټورونه او همداراز سیمه ایز حکومتي بنسټونه.
- د GBV خدمتونه د COVID-19 په ترڅ کې او وروسته له هغې مهم وګڼل شي، سربېره پر دې چې باید تکمیلي خدمتونه د WROs او متخصصینو له لوري ترسره شي او شلټرونه یا پناه ګاوې وړاندې شي او عدالت ته د GBV قربانیانو لپاره لاسرسی برابر شي. په دې هڅو کې په محلي کچه پانګونه وکړئ.
- په افغانستان کې، د کلو په شمول د حساس کولو کمپاین پیل کړئ – ښځو او نجونو ته د موجوده خدمتونو په برخه کې لارښوونې وکړئ او ورته د روغتیايي پاملرنو په اړه زیاتېګړې مالومات ورکړئ.

**مدارک**

ان د COVID-19 له خپراوي څخه د مخه، په افغانستان کې د روغتیایي پاملرنو خدمتونه په شدت سره کمزوري وو. دا په ځانګړې توګه د زېږېدنا او بشري ځواک د نه شتون له امله رامینځ ته شوې دي. ښځې او نجونې مشخصو او ځانګړو روغتیایي پاملرنو ته اړتیا لري او له وبا څخه هه خوا، په تاریخي توګه هم ندي توانېدلي تر څو هغو خدمتونو ته لاسرسی ولري چې دوی ورته اړتیا لري، په تېره بیا په لرو پرتو سیمو او کلو کې. له دې سره سره COVID-19 هم اضافه شوی دی او د وایرس له لېږد څخه د مخنیوي په موخه سخت اخیستل شوي ګامونه د دې لامل شوي تر څو ښځې او نجونې ونشي کولی له کور څخه لرې واټنونو ته لاړې شي تر څو طبي او روغتیایي خدمتونه ترلاسه کړي. یو شمېر ګډونوالو دې سختو "ټولنیزو نورمونو" ته اشاره وکړه چې ښځې اړ کوي تر څو د شدیدې اړتیا په صورت کې له طبي پاملرنو څخه کار وانشي اخیستلی. د بېلګې په توګه یوه ګډونوال وویل چې یوازې 15 سلنه نرسانې او دوه سلنه ډاکټران په افغانستان کې ښځې دي چې د دې لامل شوی تر څو په طبي پاملرنو کې د ښځو کارکوونکو کمی حس شي. همدا ټولنیز نورمونه د دې لامل کېږي تر څو په روغتیایي پاملرنو کې د ښځو له کار کولو څخه ډډه وکړي او هم یې له لاسرسي څخه ډډه وکړي. ګڼ شمېر کورنۍ د کورنۍ ښځینه غړو ته اجازه نه ورکوي تر څو د نارینه ډاکټر له خوا یې درملنه وشي او دا هم د دې لامل کېږي تر څو هغوی د COVID-19 له ازموینو او درملنو له خدمتونو څخه محرومې پاتې شي.

سربېره پر دې، دا په پراخه توګه منل شوې چې بحران کېدای شي اوسنی او اوږدمهاله جنسیتي نامساوات تشدید کړي او په دې توګه له GBV څخه مخنیوی هم. COVID-19 کومه استثنا نده. مدارک ښیي چې GBV په نړیواله کچه مخ په زیاتېدو ده، څکه دا وبا د موجوده اقتصادي او ټولنیزو اندېښنو عوامل د خوځښت د ازادۍ له نه شتون سره یو ځای کوي. افغانستان له مخه د کورني تاوتریخوالي لوړه کچه لیدلې ده. د څېړنې د ګډونوالو له لوري یو شمېر اندېښنې رابرسېره شوې چې هغه ګامونه چې له وبا څخه د مخنیوي په موخه په افغانستان کې اخیستل شوي دي، په ګډه له اقتصادي اندېښنو او د ژوند له بد وضعیت سره د تاوتریخوالي د لا تشدید لامل کېږي. همدارنګ د قرنطینې له امله انزوا نه یوازې د تاوتریخوالي د تجربې لامل کېږي بلکې په دې موده کې د مرستې غوښتل هم ګواښمن عمل اوسېدای شي.

د KII له ګډونوالو څخه دا هم څرګنده ده چې COVID-19 د هغه حیاتي خدمتونو د موجودیت د کمي لامل کېږي چې له تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په برخه کې اړین دي. لکه څنګه چې محدودې سرچینې د COVID-19 ستونزې د هوارولو لپاره کارول کېږي، نورو روغتیایي اړتیاوو ته لږ پاملرنه شوې ده. دا د حیاتي جنسي او د نسل د تکثیر اړوند روغتیایي پاملرنې هم رانغاړي. د دې په رڼا کې، دا مهمه ده چې د ملي مبارزې پلانونه دا مخ په زیاتېدو ناوړه رواج په ګوته کړي او باور ترلاسه کړي چې د ملي مبارزې په پلان کې شامل شي. دا موجوده کورنی تاوتریخوالي او جنسي او د نسل د تکثیر اړوند خدمتونه (په شمول د فوري پناه ګاوو یا شلټرونو) د حیاتي خدمتونو په توګه رانغاړي او همدارنګ د WROs تمویل کول رانغاړي چې په لومړیو کرښو کې په مبارزه بوخت دي.

---

**5 .3.5 سپارښتنه: د ښځو د حقونو د بنسټونو، شبکو او غورځنګونو لپاره تمویل – د** WROs، شبکو او غورځنګونو لپاره تمویل باید لومړیتوب وي او هغه هم د دې حقیقت په رڼا کې چې دا بنسټونه ترټولو ډېر پوه دي چې څه ډول باید ځانګړې اړتیاوې، حقیقتونه او ستونزې چې په دې زمینه کې رابرسېره کېږي، هواري کړي او په دې ستونزو کې له COVID-19 سره مبارزه هم شامله ده. دا باید د یوې پراخې ژمنتیا برخه وي تر څو د جنسیت د مساواتو، سولې او امنیت په برخه کې د تمویل کچه زیاته شي او د WROs، شبکو او خوځښتونو لپاره بنسټیز، انعطاف منونکي او اوږدمهاله تمویل وړاندې شي. دا باید لاندې ټکي راونغاړي:

- باور ترلاسه شي چې د COVID-19 سره د مبارزې په ترڅ کې د ښځو او نجونو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه دمالي ژمنتیا له لارې، پر جنسیت باندې تمرکز ولاړ اوسي. دا باید موخې یا اهداف راونغاړي تر څو باور ترلاسه شي چې د جنسیت په وړاندې ځواب ویونکې هڅې د ټولو پلې کوونکو شریکانو له لوري ترسره کېږي او موجوده فعالیتونه زیاتېږي او دوام لري.

- د WROs لپاره د انعطاف منونکو تمويل موډلونو رامينځته کول تر څو ورته بنسټيز، اوږدمهاله او باثباته تمويل برابر شي تر څو دوی وتوانيږي چې په اوږدمهال او لنډ مهال کې د COVID-19 له لومړنيو او دويمو جنسيتي اغېزو سره مبارزه وکړي.
- چېرې چې شوني وي، له ملي او سيمه ايزو بنسټونو سره په شراکت کار وکړئ تر څو باور ترلاسه کړئ چې فعاليتونه د لومړيتوبونو پر بنسټ په مخ ځي او د سيمه ايزو خلکو پر اړتياوو او حقايقو متمرکز دي.
- د WROs، شبکو او خوځښتونو تمويل بايد د COVID-19 د وبا په ترڅ کې او وروسته له ختمېدو يې لومړيتوب واوسي ځکه دا بنسټونه له ټولو څخه ښه کولی شي چې د سيمه ايزو خلکو اړوندې اړتياوې او حقايق په ګوته کړي. دا بايد د يوې پراخې ژمنتيا په توګه ترسره شي تر څو د جنسيت د مساواتو، سولې او امنيت لپاره د تمويل په کچه کې زياتی رامينځ ته شي او WROs ته بنسټيز، انعطاف منونکی او اوږدمهاله تمويل برابر شي.

**مدارک**

WROs له COVID-19 سره د مبارزې په برخه کې په لومړيو کرښو کې دي. د مدني ټولنې او ښځو د حقونو شبکې فعالې اوسېدلې دي او خپلو انتخابي حوزو ته د رسېدو، همغږي کولو او همکارۍ په موخه يې متناوبې لارې موندلې دي. که څه هم دا بنسټونه د دې مهم فعاليت د ترسره کولو لپاره د ملاتړ او تمويل له لارې په رسمي توګه پېژندل شوي ندي. ګډونوالو د WROs، شبکو او ډلو د تمويل کچې کمېدو ته اشاره وکړه.

که څه هم، په سيمه ايزه، ملي او نړيواله کچه به د COVID-19 په وړاندې مبارزه ناکامه شي که د تر ټولو حاشيه شوو اشخاصو اړتياوې پوره نشي. د ښځو بنسټونه او خوځښتونه د تحول رامينځ ته کوونکي بدلونونه رهبري کوي او په دې اړتياوو باندې د پوهېدو په بهترين موقعيت کې دي. دوی له سيمه ايزو خلکو سره نږدې اړيکې لري، دوی د هغوی لپاره خدمت کوي او له دې امله کولی شي د بحران په رامينځ ته کېدو سره له هغو ستونزو سره مبارزه وکړي چې ورسره مخ دي.

ګډونوالو اشاره وکړه چې د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه بايد سيمه ايز بنسټونه په ګوته کړي چې له مخه په سيمو کې د سيمه ايزې سولې د راوستلو او له سولې څخه د ملاتړ له امله د ښه نفوذ خاوندان دي. دا به د تر ټولو حاشيه شوو اشخاصو غږ ته انعکاس ورکړي او باور به ترلاسه کړي چې د هغوی اړتياوې له COVID-19 سره د نړيوالې مبارزې او له دې وبا څخه د خلاصون په مرکزيت کې دي. د کليدي خبر ورکوونکو مرکه کېدونکي وويل چې: "نړيواله ټولنه بايد ښځې او د ښځو په وسيله رهبري کېدونکي بنسټونه د سيمه ايزو متخصصينو په توګه يې د ونډې په حيث په ګوته کړي. د ښځو تخصص يې په سيمو کې د مبارزې د پلان د جوړولو په برخه کې حياتي ونده لوبوي." يوه بل ګډونوال غوښتنه وکړه چې:

**"ملي او سيمه ايزو بنسټونو ته بايد مستقيم تمويل ورکړل شي، په ځانګړې توګه WROs، د ملګرو ملتونو سازمانونه، حکومتونه او INGOs بايد موجوده ميکانيزم وکاروي چې له سيمه ايزو او ملي شريکانو سره اړيکې ونيسي تر څو تمويل په انعطاف منونکي توګه ورته وړاندې کړي او باور ترلاسه کړي چې سيمه ايز شريکان هغه ملاتړ او مرستې طرح او لېږدوي چې د دوی د سيمو لپاره د همدې اوس مهال لپاره مناسبې دي."**

---

6.3.6 **سپارښتنه: مناقشه او بې ځايه کېدل –** په افغانستان کې COVID-19 او د بحران په وړاندې مبارزه او له دې وبا څخه خلاصون بايد صريحاً د هغو ښځو او نجونو ناامني او ځانګړې تجربې او اړتياوې په ګوته کړي چې بې ځايه دي يا بې ځايه شوي دي، معلوليت لرونکې دي، ټولنيز-اقتصادي وضعيت يې ټيټ دی، ټيټ يا محدود رسمي سواد لري، له حاشيه شوو قومي ډلو څخه دي، د کور مسؤليت يې ورپه غاړه دی او يا هم کونډې دي. دا بايد د دوام لرونکو هڅو سره ترسره شي تر څو ټول تاوتريخوالی او مسلح مناقشې بندې شي او په افغانستان کې يوه ټوليزه سوله رامينځ ته شي.

په افغانستان کې COVID-19 د ژورو ريښو لرونکي نرسالارۍ د رواجونو، پېچلو مناقشه اې ډيناميکو او مزمن غربت په موجوديت کې مخ په پراخېدو دی. دا اصل بايد له COVID-19 سره د مبارزې په طرح او د طرحې په عملي کولو کې په پام کې ونيول شي تر څو باور ترلاسه شي چې دا طرح مناسبه او متناسبه ده.

**مدارک**

ګن شمېر مرکه کېدونکو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د تېرو لسیزو مناقشو، د خوړو نه شتون او اقتصادي نامساواتو ته د کلیدي شاخصونو په توګه اشاره وکړه چې باید له COVID-19 سره د مبارزې او له دې وبا څخه د خلاصون په طرح کې په پام کې ونیول شي. دا پر ښځو او نجونو باندې، د بېلابېلو ډلو په ښځو او نجونو باندې ځانګړې اغېزه لري چې د دې لامل کېږي تر څو هغوی لا ډېر له پروګرامونو او خدمتونو څخه حاشیه او منزوي شي.

د ځېرني ګډونوالو پر امنیت او ثبات باندې د COVID-19 مستقیم او نامستقیمو اغېزو ته اشاره وکړه. لکه څنګه چې په دې راپور کې ذکر شوي، دا وبا د اقتصادي، روغتیایي او بشري بحران د رامنځ ته کېدو لامل شوې او له حکومت څخه هم د خلکو د نارضایتی لامل شوې چې د مخ په زیاتېدو کچې تاوتریخوالي او جرم په لور یې لار پرانیستې ده. یوه کارپوه وویل چې: "COVID-19 له پنځو څخه تر شپږو میاشتو په موده کې پر ټولو ډلو باندې اغېز پرېباسلی ده، چېرې چې خلک په قرنطینیه کې وو، فضا ډېره ناامنه وه ځکه د کار او عاید د نه شتون له امله غلاوې ډېرې وې." دا په داسې حال کې دی چې یو شمېر نورو ګډونوالو وویل چې: " په داسې حال کې چې د ټول ملت تمرکز پر سوله باندې وو، د COVID-19 سرنوشت بېرحمانه ستونزه رابرسېره کړه او داسې سیمو ته یې مخه کړه چې د بېرحمانه جګړې، د هوا له سختو حالاتو او غربت په وړاندې یې مقاومت کړی دی'.

سربېره پر دې، وبا په دې مانا وه چې د معنې لرونکې سولې د لاسته راوړلو لپاره دوام لرونکې او اوږدمهاله هڅې وځنډول شوې: "COVID-19 په دې مانا وو چې د سولې مذاکرات ودرول شول، د ښځو مدافعینې نشو کولی د دفاع په نړیوالو کچو کې ګډون وکړي او د ترویج ملي ناستې هم په منظمه توګه ترسره نه شوې."

---

7 .3.7 **سپارښتنه: ځواب ګویي –** د حکومت او هغو بنسټونو له لوري د بحران په وړاندې د مبارزې پروګرامونه چې د نړیوالې ټولنې په وسیله تمویل کېږي باید په اغېزمه توګه نظارت شي تر څو له ځواب ګویۍ او روڼتیا څخه باور ترلاسه شي.

**مدارک**

د COVID-19 په وړاندې مبارزه د بېلابېلو کچو د پروګرامونو لپاره د پراخې کچې تمویل ته اړتیا لري تر څو باور ترلاسه شي چې خلک، سیمې او هېواد وړتیا لري تر څو له دې وبا سره مبارزه وکړي. دا په کابل او همداراز په نورو ولایتونو کې پروګرامونه رانغاړي. دا پروګرامونه روغتونونو ته روغتیایي بستې، طبي وسایل او تامینات، د خوړو وېش، کوچنیو سیمه ایزو ډلو او سوداګریو لکه دوډۍ پخوونکو ته ملاتړ رانغاړي.

د دې پروګرامونو لپاره د تمویل ترلاسه کول او توزیع کول باید اغېزمن نظارت او ځواب ګویي راونغاړي. د ځواب ګویی دا میکانیزمونه باید د پلي کوونکو د دفترونو او تمویل کوونکو بنسټونو په وسیله په لاره واچول شي. یوه ګډونوال وویل: "نړیواله ټولنه باید ځواب ګویي په پام کې ونیسي او په وړاندې شوو تمویلونو باندې باید د عطف ښه ټکي واچوي." یوه بل ګډونوال وویل:

**"د نړیوالې ټولنې ملاتړ باید رامنځ ته شي تر څو د COVID-19 له ګواښ سره د مبارزې په موخه د خلکو د مهارتونو کچه اوچته شي، د اسیب منونکو خلکو لپاره لا ډېر بشري پروګرامونه جوړ کړي خو خپل ملاتړ له نږدې څخه نظارت کړي تر څو د مالي ملاتړ د وړاندې کولو په صورت کې ځواب ګوی اوسي".**

سربېره پر دې، د مرکو ګډونوالو وویل چېرې چې د COVID-19 د جنسیت اړوند اغېزې اوچتې شوې- او په امنو، ټول شموله او کیفیت لرونکو خدمتونو کې پانګونه شوې، د ځواب ګویۍ او ړونتیا په اړه اندېښنې موجودې دي، په تېره بیا چېرې چې بهرنۍ مالي ملاتړ ورکړل شوی دی. د COVID-19 اړوند پروژو او پروګرامونو پراخه کچه، هم د پلازمینې او هم ولایاتو په کچه طرح شوي او تمویل شوي، چې د روغتونونو لپاره روغتیايي بستې، د خوړو وېش او طبي وسایل رانغاړي. که څه هم د ړونتیا له ضمانت څخه د باور د ترلاسه کولو په موخه د نظارت کمی موجود وو. یوه ګډونوال وویل: "د تمویل د اغېزمنتیا د نظارت لپاره د نظارت کولو مناسب میکانیزمونه نشته".

چېرې چې د نړیوالې ټولنې په وسیله مالي تمویل وړاندې شوی وو، په ښکاره توګه د ځواب ګویۍ د میکانیزم د رامینځ ته کولو اړتیا لیدل کېده.

# 4. ونډه وال

**افغان ویمنز ریسورس سنټر (AWRC):** AWRC د 1989 کال د اګست په میاشت کې د ښځو په وسیله د رهبري کېدونکي بنسټ په توګه پرانیستل شو. دې بنسټ د 2002 په جولای کې په افغانستان کې په فعالیت پیل وکړ. اوسمهال دا بنسټ د افغانستان په اوو ولایاتو کې فعالیت کوي: کابل، پروان، کاپیسا، لغمان، کنړ، ننګرهار او ارزګان. د 31 کالو بریالیو فعالیتونو په ترڅ کې، AWRC د سیمو، په تېره بیا د ښځو حیاتي اړتیاوې پوره کوي او له هغوی څخه ملاتړ کوي تر څو توانمندې شي، په خپلو سیمو کې او ملي کچه باندې د مثبت بدلون فعال استازیتوب وکړي او د جنسیت د مساواتو، ښې حکومت دارۍ او دیموکراسي د رامینځ ته کولو د ترویج په برخه کې اغېزمنې ونډې ولوبوي. AWRC د ټولنې په ټولو برخو کې په شدت سره د ښځو پر فعال ګډون ټینګار کوي تر څو بریالیتوب ته ورسېږي. له پرانیستلو څخه یې راپدېخوا، AWRC له په زرهاوو افغان ښځو او افغان نارینه وو سره کار کړی او هغوی ته یې د بزګرۍ اړوند روزنې او لارښوونې وړاندې کړې، د مسلکي روزنو له لارې یې د معیشت فرصتونه برابر کړي، د صفر سلنې مایکرو کرېډیټ اړوند پروګرامونه، تحصیلي فعالیتونه، له ناروغیو څخه د مخنیوي روزنې، د مسلکي/اداري ظرفیت د جوړولو خپرونې یې وړاندې کړي او د افغان ښځو په استازیتوب یې لابي او دفاع کړې ده او عامه اذهان یې د ښځو د ونډې د منلو په موخه حساس کړي دي.

**ویمن فار ویمن انټرنشنل (WfWI):** له 1993 څخه راپدېخوا، WfWI له 500,000 څخه زیاتو حاشیه شوو ښځو او د افغانستان، بوسنیا او هرزیګوینیا، د کانګو ډیموکراټیک جمهوریت، کوسوو، عراق، نایجیریا، روواندا او سویلي سوډان د جګړو له قربانیانو سره کار کړی دی. د WfWI بنسټیز فعالیت د جامع حقونو پر بنسټ یو کلن پروګرام باندې متمرکز دی تر څو د مناقشو په وسیله اغېزمن شوو هېوادونو کې د حاشیه شوو ښځو اړتیاوې پوره کړي.

**جنډر ایکشن فار پیس اینډ سیکیورټي (GAPS):** GAPS د انګلستان د ښځو، سولې او امنیت (WPS) د مدني ټولنې شبکه ده. موږ د پراختیا، بشري حقونو، بشري مرستو او سولې جوړولو په برخو کې د NGO ګانو د غړیتوب بنسټ یاستو. زموږ بنسټ د دې لپاره کېښودل شوی تر څو د ملګرو ملتونو د امنیتي شورا د قطعنامې (UNSCR) 1325 په شمول، WPS ترویج کړو. GAPS په ټوله نړۍ کې د مناقشې له امله په اغېزمنو شوو سیمو کې د ښځو او نجونو په وړاندې د نړیوالې ژمنتیا لپاره د انګلستان د حکومت ځواب ګویې ترویجوي.

دا یو خپلواک راپور دی چې د بهرنیو، مشترک المنافع هېوادونو او پراختیا د دفتر له لوري تمویل شوی دی. دا توکي د انګلستان د حکومت له لوري د UK aid په مرسته تمویل شوي دي، که څه هم په دې راپور کې شریک شوي اندونه او نظریات په ضروري توګه د انګلستان د حکومت رسمي پالیسۍ نه منعکسې کوي.

Funded by: HM Government